# کلیوال ژوند او کلیواله مینه




Ketabton.com

لیکوال رفیع الله علی حیدر وردګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالی دی وي!

زما ګران ملګری منصوراحمد مصباح ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب نوم: کليوال ژوند او کليوال مينه

ليکوال: رفيع الله علي حيدر (وردک)

د ليکوال نمبرونه:

۰۷۹۷۳۳۵۸۳۰

۰۷۳۰۴۳۲۷۶۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمعې لمانځه ته تللي وو.

یو ځو نور ملګری نور هم راسره وو.

په لاره مو سره ګف کولو.

دمکتب کیسې شروع شوی.

یو ملګری به ویل چې فلانکی استاذ ښه دی بل به ویل نا فلانکی استاذ ښه دی.

په همدی بحث جومات ته ورسیدو.

دې جومات کې یو مولوی صاحب وو.

ډیر ښکلی اواز یې وو.

ماته یې زیات خوند راکولو.

لمونځ مو وکړو بیرته را روان شوو.

په لاره دیو ملګری سره مخ شوم.

چې یو کال مخکې یې مکتب پریښی وو.

تللی وو ایران ته.

سترګی مشی مې ورسره وکړی.

زما نور ملګری ولاړل کورته.

زه ده هغې سره په خبرو لګیا شوم.

هغه ویل چې اول وار مې وو چې ایران ته قاچاقی تللم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زيات په زحمت راباندې تير  شوو.

په لاره اوبه دخوراک څه نه پيداکيدل.

په موټر کې به يې داسې بار کړو که لرګی.

هيڅ مو نشوای کولی دقاچاقبرانو سره چې څه به مو وويل نو به يې وهل او ډبول کول.

بل سهار يې په کور کې دمــه راکـړه راتـه يـې ويـل چـې غـږ مـو پـورتـه نـشـی کـنـه خـون مـو پـه خـپـلـه غـاړه دي.

دغـرمې يـوولــس بـجـی بـه وی چـې قـاچـاقـبـران راغـلـل.

پـه مـو ټـرو کـې يې سپاره کړو.

نويې حرکت وکړو.

بيا دايران عسکر راپسی شول .

زموږ دملګرو يو موټر يې وويشتا او موټر چپه شوو خدای خبر چې څنګه به شوی وی.

ماويل ياره دا خو بيخی زيات ظلم او زحمت دی.

هغه ويل هوو زړګو افغانان نور د هرخوا پری ژوند تنګ شوی.

ماويل هوويارِه  بنا له ايران څخه څه رقم راغلی په زحمت شوی خو به نه وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه الحمدلله په زحمت نشوو خو ایران کې روپی ډیری رانه واخیستی.

ما ښه ډیر ښه چې پخیر پخیر رارسیدلی یې روپیو غم مکوه.

هغه ویل هوو دا هم دخدای پاک مهربانې ده چې روغ رمټ راورسیدم.

ماویل اې نویده ته خو مین هم وی هغه کیسه څنګه شوه.

اوف یې وکړل ویل څه درته ووایم یاره په پښتو کې به یو یو خوش قیسمته خپل مینه حاصل کوی.

ماویل اصلی خبره وکړه.

ویل یې ما چې مکتب پریښوو په همدی خاطر مې پریښوو چې هغه دلاسه ور نکړم.

خو چې له ایران څخه راغلم هرڅه وران شوی هغه یې بل چاته ورکړی.

هغه دیو شاعر شعر مې سترګو سترګو ته کیږی چې وایې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسی ګټم خو دا پکې بایلمه

دیــدنونــه دآشنا پکې بایلمه

زه خو ستا لپاره ژوند نه مسافر شوم

خو خبر نــه وم چې تـا پکـې بـایلمـه

زما وربانديې زیات زړه بد شوو.
نو مې لږ تسلی ورکړه .
ورته ومې ویل خیر ګرانه ډیر فکر مکوه دا خو ژوند دی څوک باچا او څوک غریب وی.
نو ته یې هم په کیسه کې مه کیږه.
هغه ویل إن شاء الله ډیر یې په کیسه کې نه یم.
ماته یې ویل چې ګوره مینه ونکړی.
زه دېښو په سر ناست وم لاس مې پر سترګو ونیولو او سرمې په زنګون کیښودا بیرته مې سر راپورته کړو.
هغه ویل لکه چې ځان ته دې اور اچولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماهم ورته ویل هوو دغسی ده زړګو.

ویل ښنا نو الله پاک دې کامیاب کړه.

ماویل آمین ثم آمین منته .

راته یې ویل راځه کوټې ته ګفه به هم وکړو چای به هم وڅښو.

ماویل سمه ده .

لاړو کوټې ته دننه شوم هغه ویل ته کینه زه به دچای خبر ورکړم.

ماویل سمه ده.

زه په کوټه کې کیناستم دکوټې په دیوال یې دغه توری لیکلی وو.

N♥S

نو ماته دمکتب وخت رایاد شوو.

چې داحروف به یې په هر ځای لیکل نوید نومیدا زما ملګری.

نوید راغی لږ وروسته یې واړه ورور چای راوړو.

خو زما فکر زیات خراب وو ځکه نوید ماته ویل چې ځان ته دی اور اچولی ماویل هسی نه چې په رښتیا اور شی په همدی فکر کې وم چې نوید غږ وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلابه څه سوچونه کوی.

ماویل هیڅ هم نه نوید جانه.

هغه ماشوم د نوید  ورور ډیر مسخره وو.

هغې زیات وخندولو لږ فکر یې راسم کړو.

چای مو وڅښو زه ترې را روان شوم په لاره مې دخوش نصیب ترانه چلانده کړه روان وم کورته.

په لاره کې د استاذ سره مخ شوم.

ستړی مشی مې ورسره وکړی.

استاذ  ویل ګلابه دا ډیر وخت مې په مکتب کې نه یې لیدلی ولی نه راځې .

ماویل استاذه لږ کارونه مې هغه باندې مصروف وم .

استاذ ویل ښه اوس خلاص شول کنه.

ما ویل هوو خلاص دی الحمدﷲ.

استاذ ویل ښا ډیر ښه سبا مکتب ته راشه مکتب مه پریږده.

ماویل سمه ده إن شاء الله درځم .

استاذ سره مې خدای پاماني مې ورسره وکړه. زه راغلم کورته موبایل مې چارچ ته کیښود زه لاړم بیرون ته د خپلی معشوقی سره مې لیدل مینه اوله وه ښه مزه یې کوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو زه ترې زيات شرمېدم.

هغه زموږ خپله هم وه او زموږ دکور دخوا يې کور وو.

ورسره ومې ليدل سترګې مشې مې ورسره وکړې .

ويل ګلابه ښه يې .

ماويل هوو الحَمْدُ ِﷲ.

کورکې مو خيرت دی.

ماويل الحَمْدُ ِﷲ.

پلار او مور خور ټول ښه وو.

ماويل هوو حاضره ټول ښه وو.

ما پکت دهغې خبرو ته هوو او نا ويل ځکه ما ورسره خبرې نشواى کولى.

کورکې به مې ډيرې خبرې ورته زده کړې خو چې ورسره مخامخ به شوم ټولې به رانه هيرې شوې.

ويل يې ګلابه .

ماويل ها .

هغې ويل ولې هر وخت غوصه وې.

ماويل نه يم غوصه کله غوصه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل نه ګلابه غوصه خو یې هر وخت چې زه تا وینم نوغوصه وی او خبری نکوی.

ماپه زړه کې ویل چې دظالم لوری چې تاسره مخ شم نو هرڅه رانه هیر شی.

خو خیر ما ورته ونه کتل خو شایسته وه.

زه بیرته راغلم کورته.

کور ته راغلم چې زموږ ماما هم زموږ کره راغلی وو.

زه زیات خوشاله شوم .

ځکه دا مې ډیر ښه ماما وو.

چې رابه غللو نو به مو خپل ساعتری کول.

کوټی ته ورغللم دماما سره مې ستړی مشی وکړی.

مور مې راباندې غږ وکړو ګلابه رنګ دی ولی ژیړ دی ناروغ خو به نه وی.

ماویل نه موری هسی لږ ستړی شوم.

دماماسره مې ګف شروع کړو ټوکی یې راباندې کولی.

د ماخوستن اذان وشوو.

ماما ته مې ویل راځه ماما چې جومات ته لاړ شو.

جومات ته لاړو لمونځ مو وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماما مې دخلکو سره په سترې مشو اخته شوو.
ما د يو ملګرې سره بيرون ګف شروع کړو.
ورته ويل مې حکمت جان نن استاذ په لاره کې وليدم.
راته يې ويل چې مکتب ته ولې نه راځې .
ما ورته ويل چې لږ کارونه مې وو.
حکمت ويل ښا اول سر کې دې دروغ ورته ويلې.
ماويل نو څه مې کړې واى .
حکمت ويل ښه نور يې څه ويل .
ماويل چې ويل يې سبا سهار مکتب ته راشه.
حکمت ويل دا خو يې ښه درته ويلې که څنګه.
ماويل هوو ښه خو يې ويلې ته داسې وکړه سبا چې مکتب ته تللې نو پر ما هم غږ وکړه .
حکمت ويل سمه ده ولې نه ګلابه .
ما ترې مننه وکړه .
زه او ماما راغلو کورته.
مبايل مو راواخيست لډو مؤ شروع کړه.
دماما سره په پنځوس افغانۍ.
ماترې ډيرې وګټلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اخیر کې رانه خپلې روپۍ بیرته وګټلې.
دشپې تر یولسو او نهه دقیقو پورې لوبه وکړه.
خو هیڅ فایده یې ونه کړه .
ځکه نه مې ماما له ماشخه روپۍ وګټلې او نه هم ما ترې وګټلې.
نو ویده شوو سهار راباندې مور چیغې وهلې پاڅه ګلابه لمونځ قضا کیږي.
خو ډیرې چیغې یې راباندې وکړې.
اخیر یې راباندې په مخ اوبه واچولې .
خو پاڅیدم لمونځ مې وکړو بیرته ویده شوم.
بیا نو حکمت اواز وکړو چې راځه دمکتب ناوخته کیږي .
زه پاڅیدم کتابونه مې سم کړل .
زه او حکمت مکتب ته روان شوو.
په لاره یو موټر راغی په هغه کې تر مکتبه لاړو.
نو چې ترې ښکته شوو نو موټروان کرایه غوښته .
حکمت ورته ویل ګوره استاذه موټر راته تا وراوا اول په دې ویلی وو اوس یې رانه نشی اخیستلای.
دحکمت او موټروان جنجال شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما موټروان ته مې ویل څومره روپی دې کیږی .

ویل یې سل .

ما روپی ورکړی حکمت ویل مه یې ورکوه ته لېونی یې دوه قدمه لار ده .

ته ورته سل روپی ورکوی.

ماویل پریږده یې حکمته.

حکمت ویل ولې پریږدم .

ما حکمت تر لاس ونیوو او موټروان ته مې ویل کاکا ورځه نور.

هغه لاړو حکمت ډیر غوصه وو.

حکمت یی خپل صنف او زه خپل صنف ته ولاړم.

اول ساعت مو دری وه دری مو وویله دوهم ساعت شروع شوو ریاضی وه .

زما ریاضی ښه نه ایشی ده.

دا ساعت هم تیر شوو .

ماته زیات خوب راتلو په شاه دصنف کې بل هلک ناست وو.

ماورته ویل هیله کوم داځای ماته راکړی تاسو زما پر ځای کینی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ډیر ښه هلک وو ویل راشه ولی نه.

زه لاړم په کونج کې کیناستم .

درسی ساعت مو کیمیا وو.

دکیمیا استاذ ډیر غوصه ناک هم وو.

او ماته خوب هم زیات راتلو .

خو اخیر ویده شوی وم .

چې درز دلښتی واریې راباندی وکړو.

استاذ ویل ته درس وایې که خوب کوی.

نو یې پاڅولم تختی ته.

ویل هله ژر کوه تیر شوی درس تکرار کړه.

نو ما ورته ویل استاذه زه خو ویده وم نو زه څنګه پوه شم
چې کوم درس وو.

ټول صنف کې هلکانو وخندل .

زه له خوبه وم په خپلو خبرو سم نه پوهیدم.

استاذ بیا یو دوی لښتی راکړی .

زه لاړم په خپل ځای کیناستم .

تفریح شوی بیرون ته چې لاړم نو هلکانو راباندی مسخری
کولی خپل صنف خو راباندی خبر وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دصنف واله وو  راباندی ټول مکتب خبر کړو .

چې زه به يې ولیدم نو به يې راته ويل .

چې زه ويده وم په درس نه يم خبر .

هر هلک دا راته ويل .

لاړم د استاذ څخه مې اجازه اخیستله.

ښه وو تستاذ اجازه راکړه.

راغلم کور ته ويده شوم.

ماسپیښین په يوه بجه او 37دقیقو پاڅیدم.

لمونځ مې وکړو بیرون ته لاړم.

زموږ دکور مخی ته ویاله وه.

په دې ویاله ډيری ښځی وی هغې جنۍ هغه زه چې پری مین وم .

غږ يې وکړو زه ويده وم په درس نه يم خبر .

ټولو ښځو ماته خندل .

زه دې ته حيران شوم چې هغه څنګه خبره شوه.

آيا هغه پیریۍ ده آيا هغه دپیریانو سره ملګری ده آيا هغه دبل چاسره اړيکه لری.

زما فکر ډير خراب شوو بيرته لاړم کورته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

خور مې چې ولیدم نو یې ویل زه ویده وم زه په درس نه یم خبر.

ماته غوصه راغله هغه مې پسې واخیسته.

هغه په کوټه ننه ته ور یې بند کړو.

ما ورته ویل خورې ته دا راته ووایه چې تاسو ته چا ویلی .

خور مې ویل دهغې جنۍ نوم یې واخیست ویل دهغه د ورور زوی ماته او هغه جنۍ ته وویل.

ماته زیاته غوصه راتله خوبس څه مې کړی وای غلتی زما وه.

سبا سهار بیا مکتب ته لاړم .

تر دوولسو بجو مو درس وویلا .

کورته راغلم پښه مې زیات درد کولو.

مورته مې وویل .

مور مې راته روپی راکړی .

سبا سهار لاړشه روغتون ته.

ماویل سمه ده مور جانې.

کلیوالی ژوند وو ماته کلیوال ژوند زیات خوند راکولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا سهار لاړم روغتون ته داکتر راته ویل دا دې ښه کار کړی چې سمدلاسه راغلی یې کنه ناروغی دې غټی ده.

دا یې راکړه ماښام اذان په لاره راباندې وشوو.

یو ساعت لار پاتی وه موټر هم نه وو.

زه حیران شوم ماویل هسی نه چې په لاره کوم مسکیل راته پیدا شی دې فکر کې وم.

چې تروری مې یاد ته راغله .

چې دې کلی کې خو مې ترور هم شته.

نو لاړم د ترور کره مې .

دهغې کور تنها له نورو کورو لیری وو.

نو لاړم دروازه مې ورټک ټک کړه .

دروازه یې خلاصه کړه سترې مشی مې ورسره وکړی .

هغوی هم زیات خوشاله شول زما دترور دوی لورانی وی زامن یې نه وو.

دترور خاوند تللی وو غزنی ته هلته یې شپه وه .

ما دماښام لمونځ وکړو دعا مې وکړه.

را ولاړ شوم ترور مې ویل چې لمونځ دې وکړو بیا هغه بلی کوټی ته راځه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړم هغه بلی کوټی ته ترور  رانه زموږ دکورنۍ دغړو پوښتنه وکړه.

ویل یې ډیر ښه وخت راغلی زما خاوند په غزنی کې وو موږ لږ ډاریدو ما ویل هسی نه کوم مشکل پیدا شی.

خو دخدای پاک مهربانی وه چې ته راغلی.

لږ وروسته یې ډوډی راوړه .

ډوډی مو وخوړه زیات مزه یې وکړه.

چای یې هم راوړو چای مو هم وڅښو.

د ترور لورانو راته ویل ګلابه مبایل خو دې راکړه.

ما هم مبایل ورکړو .

ډیر فلمونه یې پکې وکتل .

فلمونه یې خلاص نکړل مبایل چارج خلاص کړو.

نو مبایل یې چارج ته کیښوو.

نیم یا څلویښت دقیقی وخت تیر شوو بیا یې راواخیست.

بیا یې هغه پاتی فلمونه وکتل .

نو یې زما کوډ یا پټ کوډ چې ما پکی خپل شخصی شیان قلف کړی وو.

دا یې را پیدا کړو ویل دا خلاص کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماویل دا زما ندی زده دا زما ملګری رمز ورکړی.

خو نې منله ویل نه خلاص یې کړه .

ما بیا ورته وویل چې زما ملګری رمز ورکړی.

نو یې ویل سمه ده بیا نو څه کوی حذف به یې کړم.

ماویل نه حذف یې نکړی .

هغې ویل یا یې خلاص کړه یا یې حذف کوم.

نو زه یې هم مجبوره کړم کوډ مې ورته خلاص کړو.

په هغه کې دهغه جنۍ عکس هم وو .

هغه یې چې ولیدلو ویل دا څوک ده ګلابه.

ماویل دا هسی عکس دی .

هغه ویل یا به یې راښایې یا یې حذف کوم.

ماویل هیله کوم چې حذف یې نکړی.

هغه ویل سمه ده خو راوبښایه .

ما ویل دا زما .

ویلی څه خو وایه دا ستا څه خبری ولی بندوی.

ماویل دا زما ملګری ده .

هغوی زیات وخندل ویل دا بدرنګه دی ملګری کړی.

ما هیڅ هم نه ویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیری مسخری یې راباندی وکړی.

ډیر پښیمانه شوم چې راغلم.

په لاره خوبه مړ شوی وای نو دلته خو تر مرگ بتره کړم.

سهار شوو لمونځ مې وکړو .

کورته راغلم .

کلیوال ژوند ماته زیات خوند راکولو.

ځکه چې څوک به مریض شوو نو ټول گاونډیان به یې پوښتنی ته ورتلل.

ماته هم زموږ گاونډیان راتلل .

او شی به یې هم راوړل یا هگۍ یا بل شی خو مقصد خالی لاس نه راتلل.

بله ورځ دهغې جنۍ مور راغله.

زه پروت وم پښې مې درد کولو .

سر مې په بړستن کې پټ کړی وو.

دهغې جنۍ مور زما مورته ویل دهغې جنۍ نوم یې واخیست .

ویل دا پنیر هغې پاخه کړی هغه ډیر ښه پنیر پخوی .

زما مور ترې مننه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زه زيات خوشاله شوم ځکه چې دهغې دلاس خواړه خو
بېل خوند لری.

دهغې جنۍ مور لاړه .

نو زه راپاڅیدم مور ته مې ویل .

موری هغه پنير دې څه کړل زيات وږی شوی یم.

مور مې پنير راواخيستل زياته مزه يې وکړه.

داسی ارمان راتلو کاش چې نور هم وای.

خو خير له نارغی بنه شوم بهر بيرون ته لاړم.

چکر مې ووهلو دملګرو سره مې وليدل بيرته راتلم کورته .

په لاره روان وم چې اواز وشو ګلابه چيری داسی تيز روان
يې.

چې شاته مې وکتل هغه جنۍ وه ستړی مشی يې راسره
وکړی زما دناروغی پوښتنه يې وکړه.

ويل ماته کوم خدمت شته .

ماويل هوو .

ويل وايه کوم خدمت وکړم.

ما ويل ستا مور زموږ کره راغلی وه.

پنير يې راوړی وو او ويل يې چې دا تا پاخه کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغه راته پاخه کړه.

هغې ویل ته داسی وکړه خور ته دې ووایه چې زما مور ته ووایې .

که زه یې په خپل سر پاخه کړم .

بیا مې مور غوصه کیږی.

ماویل سمه ده لېونۍ .

لاړم کورته خور ته مې وویل هغه ورغلله.

لږ وروسته یې ښه ډیر پنیر راوړل زیات خوند یې کولو.

وخت تیریده.

مینه مو ورځ تر بلی زیاتیده کلیوال ژوند وو چا راته مزاحمت نه کولو.

کورونه مو هم سره نیږدی وو وخت تیریده.

زما خور ناروغه شوه .

ډیرو روغتونو ته مو بوتله هیڅ ښه کیده نه.

کابل ته مو هم بوتله هلته .

داکتر ویل دا بوځی پاکستان ته زموږ سره دومره روپی هم نه وی.

ما فکر وکړو چې لاړ شم نوید ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ملګری ته لږ روپی به ترې په قرض واخلم.

ورغللم نوید ته نوید سره مې ولیدل کیسه مې ټوله ورته وکړه.

ویل څومره دې پکار دی پکټ غږ کوه .

ما ترې څلوېښت زره افغانۍ راوړی.

پاسپورټ مو شروع کړل.

ډیر په زحمت موپاسپورټونه واخیستل .

روان شوو پاکستان ته مزل دی کوو یې.

د غرو او دښتو په ننداره وم .

فکر ورته وړی وم .

پاکستان ته ورسیدو اطاق مو هم په کرایه ونیوو .

شپه مو وکړه سهار د روغتون په لټه کې شوو.

روغتون ته لاړو .

د خور زړه مې سوری وو.

داکتر ویل چې دابه یو څو شپې میلمنه وی دا زیات ژوند نشی کولی.

لاړم د خور اطاق ته .

د خور کم عمر او ځوانی ته مې چې کتل زیات خفه شوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډيره ژړا راتله ځان مې ټينګ کړو.

بيرته راغلم بهر بيرون ته .

زيات مې وژړل ډير فکر مې خراب شوو.

زړه مې زيات درد کولو چې بې هوشه شوی وم.

بيا په ځان نه يم خبر شوی .

چې په هوش کې راغلم نو په اطاق کې وم.

داکتر راسره وو.

زما دحالت پوښتنه وکړه .

ماويل ښه يم مشکيل نشته.

لاړم د خور اطاق ته لږ لږ دوا مې د هغې دتسلی لپاره واخيسته.

نو دروغتون څخه خپل کرايې اطاق ته روان شوو.

خور مې رانه پوښتنه وکړه.

داکتر څه ويل .

ماويل چې داکتر ويل دا دوا دې وخوری إن شاء الله ښه به شی.

لاړواطاق ته .

سهار مو بيرته حرکت راوکړو را روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په زړه کې دغم اوربل وو.

وخت تیریده.

خپل کلی ته راورسیدو .

زما دخور پوښتنی ته ټول خپلوان راغلل.

زما مې خورته ډیر زړه بدې دا.

ډیر فکر مې خراب وو.

زما دخور سره ټولو ګاونډیانو ډیر ښه چلند کولو.

هیچا نه خفه کوله د ټولو ډیر زړه ورباندی بد وو.

دخپلو ملګرو همزولو سره یې ډیر ښه وخت تیر کړی وو.

په هغوی ډیره ګرانه وه.

وخت تیریده بله ورځ یې اخیری سلګۍ وی.

خبری یې شروع کړی.

ویل یې وروره په ما بدګومانه نشی زه یوه پښتنه پیغله یم.

زما اخیری سلګۍ دی ما ورته ژړل او هغې خبری کولی.

ویل یې زه د فلانکی هلک سره مینه کوم.

هیله کوم چې پر ما بدګومانه نشی ماپاکه مینه کړی .

هغې هلک ته ووایه چې په ما پسی هیڅ ژړا او خفګان ونکړی په ځان دې فام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردې ځایه یې خبرې وکړې نو له دې فانی یې ستر ګی پټې کړې.

ما په زوره چیغه وکړه.

او بې هوښه شوم .

چې په هوښ کې راغلم زموږ په کور کې ژړاوې دې.

هر څوک ژاړی .

خو د هغې همزولې بیخې داسې چیغې وهلې چې دسړی زړه یې مات مات کولو.

ما هم پسې ژړل.

ډیر زور یې غوښتلو داسې په ځوانی کې لړنګه شوه.

ټول کلی پسې خفه وو.

جنازه یې وشوه خاوروته مو دیوګل په شان ځوانی وسپارله.

زما مور جانه او پلار جان پسې ډیر خراب شول.

خو بس په ژړا هیڅ نه کیده.

له هدیرې راغلم کورته زړه مې تنګ شوو.

لاړم ځان ته کوټې ته ښه زړه مې تش کړو.

بیرته راووتم ټول کور کې دغم خبرې او دغم ژړا وه.

یوه میاشت تیره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دخور خبری هغه هلک ته تر اوسه نه وی کړی.
او نه مې کولی شواى.
ځکه خپلی پښتو اجازه نه راکوله چې ورته ووایم.
نو زما معشوقی ته مې وویل .
هغه هلک دهغې دکاکا زوی وو.
هغې ویل سمه ده زه ورته وایم .
ما ترې مننه وکړه.
هغې جنۍ ماته تسلی راکوله.
خو دهغې خبرو زیات خوند کولو.
زما زړه ورباندی ارام شوو .
ډیری خبری یې راته وکړی.
موږ په خبرو لګیا وو چې خبر راغی چې هغه هلک ځان وژنه کړی.
هغې جنې چیغه وکړه او منډه یې کړی.
ما هم دهغې هلک کور ته ور منډه کړه.
چې ورغللم هلک وفات وو.
اوس نو دهغې په کور کې دغم خبری او ژړا روانه وه.
زما ورباندی زیات زړه بد شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په زړه کې مې وويل چې که دخور خبرې مې ورته کړی وای شايد داسی پيښه نه وای شوی.

خو نشوه .

دې هلک نور ورورا او خورانی نلرل.

د موره يوو وو.

مور يې پسی لېونۍ شوه.

هغې ته مې زيات زړه بد شوو.

وخت تيريده.

دهغې جنۍ ورور په کابل کې وظيفه لرله.

بيا يې زنګ ورته راکړی وو چې يوه مياشت وروسته کور کابل ته وړې.

دې خبری زما زړه مات مات کړو.

دجنۍ سره مې وليدل.

ما ويل تاسو په رښتيا کابل ته کور وړی.

هغې رانه غيږه تاو کړه او په ژړا شوه.

ويل هوو ګلابه رښتيا ده .

ماويل ګرانې ما يوازی پرېږدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ویل ګلابه ستا پرېښودل دومره وړه خبره نه ده خو څه وکړم ګرانه.

ماویل که ته دبل شوی زه ځان وژنه کوم.

هغې چیغه وکړه نه ګلابه نه داسی ونکړی.

ماویل نو څه وکړم .

هغې ویل صبر وکړه ګرانه خدای پاک مهربانه دی.

یوه میاشت وروسته تلل کابل ته.

ما په ورځ کې دری یا څلور واری مې ورسره لیدل.

کورته لاړم ډیر خفه وم.

د نوید خبری مې یاد ته راغلی.

چې ویل به یې چې ځان ته دې اور اچولی.

ما هغه وخت نه منله دا خو په رښتیا چې ځان ته مې اور اچولی.

ډیر زیات خفه شوم کور کې تنګ شوم لاړم د نوید دغو کره.

د نوید سره مې ولیدل.

نوید ته مې کیسه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ویل ګلابه ما نه وو درته ویلی اوس خو هیڅ حل لاره نشته.

ګلابه اوس صبر کوه إن شاء الله ټول به سم شي.

ماویل نوید جانه خو زړه مې هیڅ صبر کولو ته نه پریږدی.

نوید ویل نه پوهیګم څه وکړم.

خو ګوره ګلابه تر اوسه خو دې دلاسه نه ده ورکړی.

خو صرف کور یې کابل ته ځی که سنګه.

ماویل هوو خو جدایې راته ډیره سخته ده.

نوید ویل دغه خو ده خو اوس نو ښنګه کوی.

ماویل نو اوس چې کړم څه به کړم.

خو خیر بیرته راغلم کور ته راستون شوم.

بیا مې دهغې جنۍ سره ولیدل.

ما ورته ویل څه وخت ځی .

هغې ویل 18شپې وروسته ګرانه .

ماویل ښا 18ورځی ژوند پاتې.

هغې ویل ته ولی داسی نا هیلی خبری کوی.

ما ویل زه یې نکوم خو زما زړه یې کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهیګم ګلابه زه تر تا زیاته خفه یم تا چې وینم ځان ټینګ کړم.

وایم چې هسی نه ګلاب نور هم خراب شی .

خو ته داسی خبری کوی چې زما زړه مات شی.

نو په ژړا شوه زه هم په ژړا شوم.

زه په ژړا روان وم کور ته هغه هم په ژړا روانه شوه.

وخت تیریده.

لږ وروسته لاړم جومات ته لمونځ مې وکړو زیاتې دعاوی مې وکړی له جومات بیرته راغلم کورته په لاره کې بیا دهغې جنۍ سره مخ شوم.

ویل یې چیری تللی وی ګلابه .

ما ویل جومات ته تللی وم ګرانی.

ویل ښه سمه ده ګرانه.

ما ویل اې لېونۍ زه خو په تا پسی مړ کیږم.

دا به ښنګه کیږی .

هغې ویل زه خپله خو څه وکړم هیڅ حل لاره نشته.

ماویل ماسره هم هیڅ حل لاره نشته.

لاړم کور ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فام مې نه وو اواز مې وکړو خورى لږ چاى راوړه.

هغه مې چې فام شوو چې خور خو مې وفات ده.

بيا غمونه دوه چنده شول غوښتل مې مزار ته يې ورشم.

چې هغه جنۍ په هغه ځاى ناسته وه .

ماته يې ويل ګرانه زه څه وکړم ستا دومره غمونه خو به تا لېونې کړى.

ما په ژړا کې ورته وويل کاش چې مړ واى .

هغې ويل نه ګلابه داسې مه وايه .

ما ويل سمه ده لېونۍ زه ځم د خور مزار ته .

هغې ويل سمه ده ورشه ګرانه په ژړا شوه .

ماويل مه ژاړه يو زه بس يم چې ژاړم ته مه ژاړه ګرانې.

هغې ويل سمه ده نه ژاړم ګلابه .

زه لاړم دخور مزار ته زيات خفه وم .

په مزار مې زيات وژړل بيرته راغلم کورته.

کور کې هغسې خوشالى او په کلى کې هغه سې مزى نه وى.

ځکه چې کور کې مې خور نه وه.

او په کلى کې دهغه هلک مور چې لېونۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زما مينه له کلی تلله .

په کلی کې بيخی خوند نه وو پاتی .

کور ته لاړم مور مې راته ويل زويه ولی داسی خراب شوی فکر مکوه دا خو ژوند دی نو څنګه يې کوی.

ماويل نا موری هيڅ فکر نکوم .

په کور کې زيات تنګ شوم لاړم بېل او لاسی ګاډی مې روان کړل.

زموږ باغچې ته .

ماويل چې لږ لرګی به هم راوړم او زړه تنګون به مې هم ختم شی.

روان شوم په لاره کې د يوو صنفی سره مخ شوم .

هغه راسره ستړی مشی وکړی.

ويل يې ګلابه اخير دې ځان تبا کړو ولی څومره ښه درس څومره ښه ځوانی ولی ګرانه .

ما ويل څه به درته ووايم له ژونده ډير تنګ يم.

هغه ويل صبر وکړه دصبر ميوه خوږه وی.

ما ويل زړه ظالم صبر نکوی نو څنګه وکړم.

هغه ويل نو زه به څه ړرته ووايم ګلابه ښه نو چيری روان يې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماویل ځم که لږ لرګی مې یوړل له باغچی نه.

هغه ویل سمه ده زه هم درسره ځم درسره کمک به شم.

ما ویل نه نه ته ځان مه په زحمت کوه زه یې کوم هغه نه منله راسره لاړو .

ټول کار هغه وکړو .

ماترې مننه وکړه را روان شوم کورته.

مور مې راته چای راوړو چای مې وڅښنو .

موبایل مې راواخیست نوید ته مې زنګ وکړو .

ډیر تنګ وم چیری به لږ چکر ته لاړ شو .

نوید او حکمت راغلل د حکمت په موټر سکیل لاړو ښار ته.

خو ماته هیڅ ځای کې دزړه سکون نه وو.

ماښام راغلو کور ته .

حکمت ویل چې زموږ کره ځو لږ ساعت به مو تیر شی .

لاړو دحکمت دغو کره لږ ساعت مو تیر شوو.

خو زه هیڅ نه پوهیدم چې زما په زړه کې څنګه اور بل وو.

هیڅ ارام ته یې نه پریښودم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله ورځ هغې جنۍ راته يو قلم او ساعت او عطر او دسمال او تسبيح راکړی.

ويل دامې دلاس نښی سبا له خيره ځو کابل ته .

زه په ځان نه يم پوه شوی

نور وروسته


کليوالـــه جنـــۍ لاړلـــه ښـــارې شـــوه

اې لوستونکيه يوه دعا ماته هم وکړه

پای

ℛ♥S

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**